






## امرالدين « سرحد »

د نشر نېټه : 20 اکتوبر 2018 م

# دې جگړې نن کونډه کړمه

دا ماشوم مې وږی تږی
دا له لوږې داسې شوی
ښنې سرې دې توان مې نشته
بې احساسه قدم وړمه
دا مې حال دی اې عالمه
***
کلي وران شول په جگړه کې
د پردیوو دسیسه کې
دې جگړې نن کونډه کړمه
په تیارو کې ووتمه
دا مې حال دی ای عالمه
***
دا مې ژوند دی په جگړه کې
کونډه مور یم پیتی وړمه
یمه سترې او ستومانه
خپل ماشوم په خاطر ځمه
دا مې حال دی ای عالمه
***
لکه ماغوندې لاډیردي
غټ واړه یې ترینه هیردي
گړم وگړم د ماشینگړو
خلک تبنتي ان له بمه
دا مې حال دی ای عالمه
***

لا تر اوسه اور بلیږي
د جګړې لمبې تودیږي
هلته جنګ د اسلام نه دی
نه څوک مرې کندز له غمه
دا مي حال دی ای عالمه
***
لا تر اوسه جګړه شته ده
په کندز کې نن میشته ده
ان فراه فاریاب کې جنګ دی
ټول دسولې دي په تمه
دا مي حال دی ای عالمه
***
څه عجیب مجاهدین دي
دا د کوم مذهب او دین دي
« کوک فانتا» ښځي بهرنی
دوي جلا افغان له غمه
دا مي حال دی ای عالمه
***
دا مي ژوند دې په جګړه کې
لکه ژوند په ادیره کې
نیس باسم وړاندې دروممه
زه ژوندی یم تردې دمه
دا مي حال دې ای عالمه
***
ځیني ژاړي مرګی ویني
ځیني تېښتي وړاندې درومي
ځیني مال تېښتوي کورته
څه سپین ګیري ناست په دمه
دا مي حال دې ای عالمه
***
امرالدین « سرحد »
مسکو
۱۴/۱۰/۲۰۱۶

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org